مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۵/۰۱

# ښامار په پښتني فوکلور کې

ښامار يو افسانوي موجود دی، چې د پخوانی او معاصری نړۍ په اولسی نکلونو کی لیده کېږی. سر يې معمولا د مار، نهنګ،، زمري، ګوربت او يا پيل په شکل وي. څلور پښې لری او تر خوله يې اورونه وزی. ۱
د ښامار افسانه دونه اوږده سابقه لری چې د سرچينې معلومول يې ډېر ګران کار دی. له يوه هيواده تر بل هيواد او له يوې کلتوري حوزې څخه تر بلی يې سفر کړی او په هر ځای کی يې بېل رنګونه اخيستی دي. داسی ښکاری چې د ښامار افسانې په لومړي ځل په بابل کی د مصر له مذهبی افسانو څخه سرچينه اخيستې وي، له هغه ځايه د هند او چين خواته تللې او بيا نو د يونان له لارې اروپا ته ننوتلې وي. ۲
د ښامار افسانه پخپله په افغانستان کې د ميلاد څخه مخکې فوکلوري او افسانوي ريښې لري. لړ ترلږه يوه افسانه د کوشانيانو لوی امپراطور کنيشکا ته منسوبه ده چې د مارانو له هغه پاچا سره يې، چې روحاني قوت يې درلود، مقابله وکړه. پخپله کنيشکا ته هم روحاني قوت منسوب دی؛ ځکه چې له روحاني قوت څخه پرته يې د مارانو پاچا يا اژدها ته په هيڅ توګه ماته نسوای ورکولای. کله چې اژدها شيرځله معبدونه او مذهبي خلوتونه ورانوي او د کنيشکا د پوځ د وېرولو لپاره توري وريځې راولي او توپان جوړوي نو کنيشکا هم د خپل روحاني قوت په زور له خپلو دواړو اوږو څخه اورونه راباسي او د اژدها د اوبو پر ذخيرې باندې حمله کوي او خپلو عسکرو ته امر کوي چې د اژدها د اوبو ذخيره له کاڼو ورته ډکه کړي. اژدها پوهيږي چې د کنيشکا سره مقابله نه سي کولای او هغه ته عذر کوي او ورته وايي چې که بل ځل هغه د معبدونو د ورانولو تکل وکړ نو د کنيشکا پهره دار عسکر دي ډول ووهي څو اژدها له کنيشکا سره کړي وعدې ته متوجه سي او له شرارته لاس واخلي... ۳
د اروپا په عيسوي مذهبي فوکلور کی د ښامار د افسانې رنګ داسې دی چې وايی يوه ښامار يا يوه نهنګ په هغه چينه کی ځای ونيوی چې د بت پرستانو د سايلينس ښار ته يې اوبه ورکولې. د ښار خلک مجبور سول چې دغه ښامار ته هره ورځ يو پسه ورکړي او که به يې پسه پيدا نه کړ نو بايد چې يوه پيغله يې ورکړې وای. يوه ورځ د پاچا لور د پچې په اساس انتخاب سوه او پاچا د هغې د ژغورلو لپاره د مرستي غوښتنه وکړه. د ښار اوسيدونکو د سينټ جورج د دغې مرستي په بدل کی له بت پرستی څخه لاس واخيست او عيسويان سول.
د پښتنو په فوکلور کی د ښامار افسانه د مومن خان له نکل سره تړلې ده. مومن خان يو ښايسته او زړه ور زلمی دی چې د خپلی محبوبې شيرينو د ولور ګټلو دپاره هندوستان ته روانيږی. هلته ګوري چې د هغه ښار خلک هر کال ښامار ته يوه نجلی ور لېږی. ښامار يې خوري او له ښار سره نور غرض نه کوی. کنه نو ټول ښار تباه کوی. مومن خان په بازار کی ناست دی او دښار په منځ کی د پاچا ښايسته لور په کجاوه کی تېرېږی او د ښامار د خوړلو لپاره يې له ښار څخه د باندی بيايی. مومن خان د پاچا د ځواني او ښايستي لورد ژغورلو دپاره په کجاوه پسې روانيږی. کله چې شپه را رسيږی او ښامار د پاچا د لور د خوړلو لپاره راځي نو مومن خان په خپلو پښو پوری توره تړي او ځان د ښامار په خوله کی ورکوی. ښامار هغه کرار کرار تېروی او د مومن خان په تېره توره يې نس څيرېږی.
ښامار په دې توګه مري او مومن خان دهغه له پوستکي يوه لويه ټوټه دنښانی په توګه ورسره اخلی. او په ورروسته کی ثابتوی چې ښامار ده وژلی دی.
په هغه نکل کی چې په لره پښتونخوا کی د سنګر جمال نظم کړی دی، ښامار په پښتو ژبه خبری کوی. له خولې څخه يې اورونه غورځي او مومن خان ته د جنګ اعلان ورکوی. مومن خان ښامار ته وايی چې لومړی واری وکړي او ښامار پر مومن خان باندی اور پو کوي خو مومن خان د اور په مقابل کی خپل سپر نيسی . د ښامار واری بې نتيجې کېږی او مومن خان يې په خپل غشي په تندي کی ولي او په يوه ګوزار يې وژنی. مومن خان د ښامار له بدن څخه د نښانې په توګه يوه ټوټه پرې کوي او د خپلی بهادری د اثبات دپاره يې ورسره ساتي. کله چې هغه سړی چې د پاچا لور يې په کجاوه کی د ښامار د خوړلو لپاره وړې وه، د ښامار د وژلو دعوه کوي او پاچا خپله لور هغه ته ورکوی نو مومن خان ميدان ته راوزي او د ښامار د بدن ټوټه د نښانی په توګه پاچا ته ښيی او د هغه لور ګل خوبان او نيمه پاچهی ګټی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

په اروپايي فوکلوری ادبياتو کی، چی فکر کيږی د ښامار افساني له هغو هيوادونو ، په تېره بيا فرانسې څخه سرچينه اخيستې ده، د نکل قهرمان له يوې ساده توري يا غشی او لينده سره د داسی يوه اژدها په جنګ نه ورځی چی له هغه سره يوه بشپړه پاچهي مقابله نه سی کولای.

د اروپايي فوکلوری نکلونو يو عام شکل داسی دی چی وايی نيستمن مېړه او مېر من مري او خپلی لور او زوی ته يو وړوکی کور او درې پسونه په ميراث پرېږدی. لور يې وړوکی کور اخلي او زوی درې پسونه را رهي کوی. په لاره کی درې واړه پسونه په دريو لويو او ښايستو سپيانو بدلوی او دخپل سفر په لاره کی پر يوه زاړه فقير باندی پېښېږی. د زاړه سړي ډېر درناوی کوي او هغه په عوض کی يوه توره يا يو لرګی ورکوي چی هر شی په ووهي هغه ځای پر ځای مړ کيږی.

ځوان بالاخره هغه ښار ته رسېږی چی خلک يې په تاکلي وخت يوه ښايسته پېغله هغه ښامار ته، چی اوه سرونه لری، د قربانۍ په توګه سپاری ، کنه نو هغه ښامار راځی او د ښار ټول خلک وژنی. په هغه ورځ چی ځوان ښار ته رسېږی ، بايد په شپه کی د پاچا ښايسته لور ښامار ته وسپارله سی. پاچا جار وهلی دی چی که هر چا ښامار مړ کړ نو د ده لور او نيمه پاچهي به د هغه وی. ځوان له خپلی توری يا لرګي سره د ښامار په جنګ ورځی او دخپلو دريو سپيو په مرسته، چی د ښامار سره په جګړه لګيا کيږی، هغه په خپله توره وهي او ټول سرونه ورڅخه پرې کوی. د ټولو سرونو څخه ژبې د نښانی په توګه اخلی او په خپله مخه ځی. هغه سړی چی شهزادګی يې په کجاوه کی راوړې ده د وژل سوي ښامار سرونه پاچا ته ښکاره کوي . پاچا خپله لور او نيمه پاچهي هغه ته ورکوی. خو ځوان د شهزادګی د واده په شپه هغه ښار ته ورځی او له پاچا څخه پوښتنه کوي چی د ښامار سرونه ژبې لري او کنه. او کله چی د ښامار د اوو سرونو ژبې له خپل خورجين څخه را باسی او پاچا ته يې ښيی او ټولي ژبې له سرونو سره ګوري او شهزادګی هم وايی چی ښامار دغه ځوان وواژه، نو پاچا خپله لور او نيمه پاچهي دغه ځوان ته بخښی. ۳ البته په اروپا يی فوکلور کی د ښامار نکل د پښتنو د مومن خان د نکل په څېر انکشاف نه کوی او توريالی ځوان د پاچا د لور تر ګټلو او له هغې سره تر واده کولو وروسته خپلي د خوښی شپې ورځی تيروي او نکل هم دلته پای ته رسيږی.

په اروپا کی د ښا مار افسانه په لس هاوو شکلونه لری او يوازي د فينلينډ په افسانه کی د نکل قهرمان تر هغه وخته پوری د شهزادګی پر زنګانه باندی خوب کوی چی ښامار له ليری را ښکاره کيږی او شهزادګی قهرمان له خوبه پاڅوی. ۴

د محمد ګل نوري د ملی هينداري په کتاب کی هم مومن خان تر هغه وخته پوری د شهزادګی پر زنګانه ببغمه پروت دی چی ښامار له ليری راښکاره کيږی او دپاچا لور له ډېره وهمه ږغ نه سی کولای او کله چی يې اوښکي له سترګو څخه را تويېږی او د مومن خان پر مخ باندی لګيږی نو هغه له خوبه را ويښېږی او د ښامار په جنګ ورځی.

څرنګه چی مومن خان د ښامار له وژلو څخه وروسته له هغه څخه سرترپايه تسمه باسی او چی په خوله کی يې توره ورکوی ، سرترپايه پوری يې څيری نو داسی ښکاری چی د ملی هينداري د نکل اژدها يا ښامار فقط د يوه لوی مار بڼه لری، پښې نه لري ، تر خولې يې اورونه هم نه غورځي او داسی ښکاری چی د دې نکل جوړونکي او اورېدونکي د اژدها له هغو شکلونو سره چی په نورو کلتوري حوزو کی څرګنديږی ، اشنايی نه لری.

د دوه ورونه په يوه رنګ فوکلوري کيسه کي، چی زياتره د اروپايی کلتور څخه پښتو ژبی ته ننوتلې ده، مشر ورور، د سياحت او شاوخوا ګرځيدلو په ترڅ کی ، تر يوې ونې لاندي پريوزي او يو ګړی وروسته ګوري چی په دغه ونه کی د سيمرغ مرغه ځاله ده. دسيمرغ دوه چيچيان په دغه ونه کی ناست دي او يو ښامار ورخيژی او غواړی چی دا چيچيان وخوري. ده غشی او لينده ورته ونيول، ښامار يی وويشت، لاندي يی را واچاوه او د ښامار غوښی يی د سيمرغ بچيانو ته ورکړې او هغوی يی په ماړه کړل. کله چی سيمرغ راغی او سړی يی وليدی نو فکر يی وکړ چی د هغه چيچيان همدغه سړی وژني نو له غره څخه يی يوه لويه کرکنډه را واخيستله او غوښتل يی چی د پاسه يی پر را ايله کړي خو چيچيانو يی خپله مور پوه کړه چی دغه سړي هغوی ته نجات ورکړی دی. سيمرغ ورته وويل چی تا زما سره نيکی وکړه نو زما دا يو چيچی دي ستا نوکر وي چی ته هر چيري ځې هغه به ستا پر سرسايه کوي.

دغه ته ورته کيسه د ميلاد څخه څه باندي زر کاله مخکی د بابليانو او آسوريانو له فوکلور څخه پاته سوې او د اروپا فوکلوري نکلونو ته يی لاره کړې ده. د بابليانو څخه يوه افسانه راپاته ده چی وايی مار د لمر خدای ته شکايت وکړ چی ګوربت د ده بچيان خوړلي دي. د لمر خدای هغه ته مشوره ورکړه چی د يوه مړه غوايی په نس کی پټ سي او کله چی ګوربت د غوايی د غوښو د خوړلو لپاره هلته ورسي نو دی به حمله ورباندي وکړي او مړ به يی کړي. مار هم د مړه غوايی په نس کی پټ سو او کله چی ګوربت ورغی ده حمله ورباندي وکړه او وزرونه يی ورمات کړل. خو کله چی د نکل د قهرمان ايټانا ميرمن د ماشوم د زيږولو په وخت کی د مرګ په حال کی ده نو ايټانا ګوربت ته نجات ورکوي او د هغه د ماتو وزرونو علاج کوي او ورته وايی چی دی اسمان ته پورته کړي څو د خپلی ميرمني د علاج لپاره د يوې ټاکلي ونې څخه پاڼی وشکوی. ګوربت هم ايټانا په وزرونو کی پورته کوي او دونه لوړ خيژي چی مځکه داسي ښکاري لکه د کيک يوه ټوټه. خو مخکی له هغه چی ګوربت خپل ځان د ايشتر تخت ته ورسوي، ستړی کيږی او بيرته له پورته څخه مځکی ته را لويږی.۵

د بابليانو په افسانه کی ګوربت په مار ملامت دی او د هغه بچي ورڅخه خوري. مګر د اروپا په فوکلوري نکلونو او د پښتنو دوه ورونه په يوه رنګ نکل کی ښامار د ګوربت بچي ورڅخه خوري او په ملامت دی. خو انسان په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دواړو صورتونو کې د ګوربت، یا د پښتنو د فوکلوري نکلونو په اصطلاح سیمرغ، ملاتړ کوي. داسي ښکاري چې مار د انسان ډېر پخوانی دښمن دی چې په هیڅ توګه روغه نه سي ورسره کولای او دغه علت دی چې د فارسي په ادب کې مارآستین او په پښتو کې د لستوني مار تر ټولو خطرناک د ښمن ګڼل سوی دی.

په هندي کلتور او هندو مذهب کې، چې ډېر زیات کسان یې د مار پرستش او عبادت کوي، هم په واقعیت کې مار ته چنداني په ښه سترګه نه کتل کیږی او سړي ته داسی فکر ورپیدا کوي چې ښایی دا عبادت به هم د مینی او درناوي په اساس نه بلکه د ویری په اساس وي.

د هندو مذهب په افسانو کې وریترا، چې د هندوانو یا ویدی سرودونو د لوی خدای ایندرا ډېر لوی دښمن دی، د درې سري مار یا یوه لوی اژدها شکل لري. ده د توپان په وریځو کې باران بندي کړی دی. څرنګه چې ایندرا د هغه سره په جنګ کې بریالی کیږی او وریترا وژني نو ایندرا ته په ویدي سردونو کې د وریترا د وژونکي یا قاتل لقب هم ورکړه سوی دی. او زیاتره یې له دغه امله ستاینه هم کیږی۶

په یوه ویدي سرود کې د ایندرا ستاینه داسي کیږی:

راسه چې د ایندرا د زړه ورتوب بیان درته وکړم
له ده سره د بریښنا وسله ورسره وه او لومړی کار یی دا وو چې
اژدها یی قتل کړ او اوبه یی پر مځکی را پریښودلي
او د غرونو خیټی یی وڅیرلي
ده هغه اژدها قتل کړ چې پر غره باندي غځیدلی وو
ځکه چې تویښتار، ایندرا، ته د اسماني تندر وسله ورکړې وه
اوبه یو ناڅاپه د څارویو د ګورم په څېر وبهیدلي
د مځکي او دریابونو پر لوري را شیوه سوې
ده د خپل قوت لپاره له سوما څخه کار واخیست
د هغه جوهر څخه یی درې پیالي وڅښلي
هغه سخي ایندرا خپله د تندر وسله واخیستله
او د ا ژدها ګانو تر ټولو مشر زیږیدلی یی وواژه
اې ایندرا کله چې تا د اژدها ګانو تر ټولو مشر دنیا ته راغلی وواژه
او د کوډګرو چلونه او تزویرونه دي ختم کړل
لمر، اسمان او سهار دي پیدا کړ
نو داسي دښمن دي پرې نه ښود چې ستا په مخ کې ودریږي
ایندرا، وریترا او تر هغه زورور ویامسا هم وواژه
ده هغوی د بریښنا په زوروره وسله له منځه یوړل
لکه د وني ښاخونه چې په تبر ووهي او را ولویږی
دغسي اژدها هم پر مځکه باندي ټوټي ټوټي پریووت
اوبه د انسان د ښیګڼی لپاره وبهیدلي او د هغه پر مړي تیری سولي
دی لکه له بیخه ایستل سوی واښه بې واکه پروت وو
تر هغو اوبو لاندي چې ده په خپل زور را ګرځولي وې
وریترا د مړه مار په څېر پروت وو او د زور او واک یی درک نه وو.۷

د هند په لویدیځو سیمو کې، چې د مار عبادت پخوا ډېر رواج درلود اوس زیاتره له منځه تللی دی، خو بیا هم وجود لري. په هغو سیمو کې زیاتره د کوبرا د زهر لرونکي مار عبادت کیږی او څرنګه چې کوبرا ډېر له خپله ځایه څخه نه خوځیږی نو ډېر کسان په دې عقیده دي چې هغه د یوې خزانې ساتنه کوي. د پښتنو په فوکلور کې دا خبره ډېر رواج ده چې وایی پر خزانو باندي ښاماران پراته وي او چې تر څو پوري څوک هغه ښامار مړ نه کړي خزانې ته لاس نه سي ورروړلای. د فوکلور څخه دغه خبره شعر او ادب ته هم تللي ده او د ډېرو شاعرانو په شعرونو کې له خزانو سره د ښامارانو یادونه کیږی.

د هندوستان ډېر خلک اوس هم په دې عقیده دي چې که له مار سره څوک بد وکړي نو هغه حتما ازار ور رسوي او که ښه ورسره وکړي نو مار هم نیکي ورسره کوي. که څوک د مار له چیچلو څخه ځان ژغورلای سي نو د هغه د وژلو جرأت نه کوي. او کله چې څوک مار مړ کړي نو د هغه د سوځولو لپاره د انسانانو په دود ترتیبات نیول کیږی او ټول حاضر کسان وژل سوي او سوځل کیدونکي یا سوځول سوي مار ته زاری کوي چې دوی هغه دخپل بادار په حکم وژلی دی او په دې کې د دوی ګناه نسته او یا په ساندو ساندو ورته وایی چې موږ ستا له زهرو څخه د خپلو ماشومانو، چرګانو او څارویو د ژغورلو لپاره ستا له وژلو پرته بله هیڅ لاره نه درلوده نو ته پر موږ رحم وکړه. ګواکي خلک تر ژوندي مار له وژل سوي مار څخه ډېر ویره لري. ۶



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د چین د شهزادگی په نوم نکل کی ، چی د مغول شاه جهان زمانې ته منسوب دی، راغلي دي چی د کشمیر د جوګیانو یو لوی ګورو او پیشوا د کشمیر والي علی مردان خان ته، چی یو ناڅاپه ډیرسخت ناروغ سوی دی او په ګیډه کی یې دردونه پیدا سوي دي، وایی هغه ښځه چی تا په دې وروستیو شپو کی واده ورسره کړی دی، په حقیقت کی یو خطرناکه مار دی چی ستا د بربادی سبب کیږی. دی علی مردان خان ته وایی که په سل کاله کی پر یوه مار باندې د انسان نظر ونه لویږی نو د هغه مار په سر کی یوه جوغه پیدا کیږی او هغه د مارانو پاچا کیږی. که سل کاله نور د مارانو پر پاچا باندې د انسان نظر ونه لویږی نو له هغه څخه اژدها جوړیږی. او که درې سوه کاله پر یوه مار باندې د انسان نظر ونه لویږی نو له هغه څخه لامیه جوړیږی. لامیه ډیر لوی قوت لري او چی زړه یی سي په هره بڼه کیدلای سي. هغه معمولا غواړي چی ځان د یوې ښایستې ښځې په رنګ کړي. والی صاحب! ستاسي میرمن یوه لامیه ده.۷

د تورات د لومړي کتاب، تکوین، د دریم فصل لومړي اته ایتونه وایی چی شیطان د مارپه بڼه جنت ته ورغی. بی بی حوا یی وغولوله او هغه یی د هغې ونې د میوې خوړلو ته تشویق کړه چی خدای تعالی دوی ته ویلي وه چی هغه به نه خوري کنه نو مړه به سي. مار بی بی حوا ته وویل چی دا میوه هغوی نه وژني بلکه دا د عقل ونه ده او که دوی د هغې میوه وخوري نو سترګې به یی خلاصې سي او په خیر او شر به وپوهیږی. بی بی حوا او آدم علیه السلام دواړو هغه میوه وخوړه او له جنت څخه وایستل سول. ګواکي د انسان او مار ترمنځ د ښمني ډیره زړه ده، شیطان هم د مار په بڼه د انسانانو موراو پلار تیر ایستلي او له جنته یی بې برخي کړي دي او دغه علت دی چی د اسماني کتابونو پیروان په فوکلوري نکلونو کی په هر صورت له مارسره دښمني پالي.

دا چی د ښامار افسانه به کله د پښتنو فوکلور ته ننوتلې وي، سړی په دقیق ډول څه نه سی ویلای. که څه هم چی د مومن خان په نکل یا پښتنو په فوکلوري نکل کي، د ښامار او انسان ترمنځ د جنګ میدان هندوستان ښودل سوی دی، خو د هند په فوکلور کی دغه یا دغي ته ورته افسانه چنداني نه لیده کیږی او داسي ښکاري چی د ښامار افسانه باید د بابل څخه د ایران یا ترکستان له لاري د پښتنو فوکلور ته ننوتلې وي. البته د خواری غریبی او د شیرینو د ولور د ګټلو لپاره هندوستان ته د مومن خان د تللو او اوږده سفر کولو پدیده دونه اوږد تاریخ نه لري چي خبره یې د بابل د تمدن وختونو ته ورسیږي. بلکه دا پیښه زیاتره د پوونده کلتور او له هندوستان سره د پوونده تجارت او په هغه سیمه کي د جره ګانو یا خواري کښنو پښتنو له زخمت کښیو او پیسو جمع کولو سره اړه لري.

د مومن خان په نکل کی د زیات ولور د غوښتلو ، او تربور ګلوی ټولنیزه ستونزه او هندوستان ته د خواری غریبی او زیاتو پیسو د ګټلو دپاره له تللو څخه ښکاری چی د مومن خان نکل د پښتنې سیمی یوه نګه فوکلوری کیسه ده. د ښامار برخه چی په ملی هینداري کی یوازې د یوه لوی مار بڼه لری د پردیو کلتورونو تر اغیزې لاندې وربانده زیاته سوې ده. د محمدګل نوري د ملي هینداري د فوکلوري نکلونو د مومن خان د نکل ښامار د سنګر د جمال د مومن خان د نکل د منظومې له هغه اژدها سره توپیر لری چی هم پښې لري ، هم یې تر خولې اورونه غورځی او خبری لا هم کوی. ګواکي د مومن خان د نکل دوو ډولونو ته په دوو سیمو کی د ښامار افسانه د بېلو بېلو ځایونو له کلتوري حوزو څخه ننوتلې ده . دغه راز د سنګر د جمال په منظومه کی د شیرینو ورور ظفر خان نومېږی او دا لقب زیاتره په هند کی د مسلمانو پاچاهانو په دربارونو کی اشرافو ته ورکول کېدی نو سړی ویلای سي چی دا نکل به تر یوې اندازې پوری د هندی کلتور تر اغېزې لاندی راغلی وي او د بلی خوا د مومن خان په هغه نکل کی چی په ملی هینداره کی راغلی دی د شیرینو همدغه ورور زبردست نومېږی او سړی ویلای سي چی دا نوم به د اېران د القابو څخه عاریت سوی وي. ځکه چی زبردست په هیڅ توګه پښتو نوم نه دی، او په پخوا کی چندانی سابقه نه لری او په پخواني هندوستان کي یې هم چنداني مثال نسته.

جمال شاعر د سنګر په خپله منظومه کی مومن خان د ګذک د کلي، چی د بت خاک علاقه ده، اوسېدونکی بولي.۸

مرحوم عبدالحی حبیبی مومن خان یو پښتون شاعر بولي او وایی چی هغه د کندهار په شاوخوا کی ژوند کاوه. هندوستان ته له دوولس کاله سفر او سرګردانیو څخه وروسته خپل وطن ته ستون سو او خپل د کاکا زوی زبردست خان وواژه او اوس د مومن خان او شیرینو دواړو قبرونه د کندهار په لوېدیځ کی د ملاسعادت پر غونډی باندی سته او خلک یې زیارت کوی. ۹

په داسی حال کی چی که د مومن خان نکل ته دونه په جدی نظر ګورو چی هغه یو پښتون شاعر وبولو او د قبر ځای یې وښیو نو بیا به د هغه په نکل کی له هغه ښامار سره څه کوو چی په ټاکلي وخت له ښار څخه یوه ښایسته نجلۍ او په ډوډی بار اوښ په اولجه کی غواړی. موږ به په دنیا کی دونه ښایسته زلمی چېری لیدلی او اورېدلی وي چی خلک یې د تش لیدلو توان نه لري او هغه ته په تش کتلو بېسده کېږی.

موږ مخکی وویل چی د ښامار افسانه نه یوازې د پښتنو په فوکلور بلکه د دې سیمی په فوکلور اړه نه لری او د ډېرو لیری ځایونو څخه په ډېرو پخوانیو وختونو کی د دې سیمی فوکلوري نکلونو ته ننوتلې ده . او د پښتنو او سیمی فوکلور هغه خپله کړې ده.

کله چی د ښامار او د مومن خان خبره کیږی نو لکه څرنګه چی ښامار د ډیرو زړو افسانو څخه راغلی او د پښتنو په فوکلور کی یی ځای پیدا کړی دی نو دغسي مومن خان هم د نکلچیانو د خیال او تصور محصول دی او د شیرینو د ولور د ګټلولپاره یی هندوستان ته روان کړی او د ښامار په جنګ یی ور وستلی دی. د ښامار افسانه، چی په اروپا او منځنی ختیځ کی په سل هاوو شکلونه لري ، ډیر شاعرانه رنګ لري او د مینې او قربانی ډیر ښایسته او په زړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوري داستان ور پوري موښلول سوی دی. دا نکل باید هرو مرو د پښتنو سیمی ته ننوتلې وای او که مومن خان نه وای نو د ښامار سره جنګ به د کوم بل زړه ورسړي په قسمت رسیدلای او دغه افسانه به یی رنګینولای. البته د مومن خان په نکل کی لا د یوه پښتانه پهلوان پر زړه ورتیا او دومره لویی قربانی ورکولو ته پر حاضریدلو باندي د هغه ذاتي غرور هم ورزیات سوی دی. مومن خان خپل ژوند په خطر کی اچوي. د یوې ښکلي نجلۍ د ژغورلو لپاره د یوه عظیم ښامار په جنګ ورځي. ښامار په جنګ کی وژني، مګر کله چی پاچا ده ته خپله هغه ښکلې لور بخښي نو دی هغې ته وایی چی مومن خان یو زړه لري او هغه یی شیرینو ته ورکړی دی او له بل چا سره مینه نه سي کولای. د مومن خان د نکل دغه برخه ده چی دې فوکلوري کیسې ته نور پښتني رنګ هم ورکوي. ځکه چی موږ په پښتني فوکلور کی له بیګانه ښځو سره د پښتنو پهلوانانو او قهرمانانو د میني کولو څرک نه لرو. مومن خان طبعا استثنی کیدلای نه سوای. ظریف خان، چي هغه هم د مومن خان په څېر غښتلی پهلوان دی، د هندوستان د پاچا له لوڼو سره ځکه مینه نه کوي چي مابې یې په نامه ناسته ده. طالب جان په پېښور کي د خپل اخوند له لور سره مینه نه کوي او زړه یې یوازي ګل بشرې ته ورکړی دی او دغه راز ښادي خان هم په کوټه کي له هغي نجلۍ سره میني ته زړه نه ښه کوي چي دی، په زور، له ځان سره میني کولو ته مجبوروول غواړي.

خو په حقیقت کی نه مومن خان د بتخاک او نه د کندهار اوسېدونکی دی او افسانه یې هم ښایی یوازي په پښتنو کی د ډېر لوی ولور د اخیستلو د ناوړه دودونو او د تربرونو ترمنځ د بیځایه دښمنیو د ضمني غندلو لپاره ایجاد سوې او سینه پر سینه تر موږ پوري را رسیدلي وي .او د دې ترڅنګ د پښتنو د بهادریو د ستایلو لپاره یوه ایجاد سوې کیسه ده او د ښامار افسانه هم، چی پخپله په بېلو بېلو شکلونو موجوده وه، په دوه شکله ورپوری موښلول سوې ده. که چیري د مومن خان د نکل نور شکلونه له خلکو څخه واوریدل سي او ولیکل سي نو ښایی په نکل کی له نومونو څخه نیولې تر پیښو او ښامار پوري ډیر زیات تغیر ووینو. خو له بده مرغه چی د فوکلور دغي برخي ته، چی د کلتور د بلي هري برخي په څیر مهمه ده، ډیره لږه توجه سوې ده او دغه علت دی چی موږ د خپلو فوکلوریکو نکلونو ډیر محدود او حتی یوازیني شکلونه په لاس کی لرو. یوازي د آدم خان او درخانی نکل دی چی ډیر زیات شکلونه لري او ځکه ډیر بحث هم وربانديي کیدلای سي.

1 Dictionary of Folktales, Mythology and Legends p 23
2 ibid P 324
3- Hiuen Tsiang. Buddhist Records of the Western World Volume one. PP 64-65
4 The Folktale  P 24-25
5 ibid   P 30
6 ibid P 277
7 The Classical Dictionary of India  P 690
8 The Wonder that Was India P 400-4001
9 Classical Dictionary of India P 130
10 The Folktales of Pakistan  P 134

علی مردان خان د ایران د صفوي رژیم د پاچا لومړي شاه عباس په وخت کی د کندهار والي وو. د لومړي شاه عباس له وفات نه وروسته، کله چی شاه صفي هغه د حساب کتاب لپاره دربار ته وغوښت نو ده د شاه صفي له ویري، چي هسی نه مړ یې نه کړي، خپل ځان او د کندهار ښار د هند مغولي امپراطور شاه جهان ته تسلیم کړ. شاه جهان هغه ونازاوه او یو لک روپی یی په انعام کي ورکړې. البته علی مردان غوښتل چی بیرته په کندهار کی د والي په حیث مقرر سي . مغول شاه جهان هغه ته پوځی منصب ورکړ خو په کندهار یا کوم بل ځای کی یی ولایت یا مهم جاګیر ور ونه سپاره. ښایی شاه جهان د هغه پر وفاداری باندي ډیر باور نه درلود. فوکلوري نکلونو ته دغه راز نومونه معمولا لاره کوي. د سړیو او ځایونو نومونه په یوه او بل ډول راوړل کیږی او که سړی هغه نومونه جدي ونیسی نو د پیښو په تحلیل کی ډیري سختی تیروتني منځته راځي. د مغول جلال الدین اکبر زمانې ته به ښایی ډیری پیښي منسوبي وی مګر هغه ښایی د اکبر له زمانې څخه ډیر وروسته یا ډیر مخکی منځته راغلي وي. د دې خبری یو علت دا دی چی اکبر او شاه جهان د مغولو ډیر مشهور پاچاهان تیر سوي دي او پښتانه نکلچیان او د هغوی اوریدونکي او یا د سیمی د نورو ځایونو نکلچیان د نورو پاچاهانو او د هغوی د حکمرانانو له نومونو سره ډیر بلد نه وه.

۱۱  ډیر غم، قصه د مومن خان او شیرینو   ص ۴-۵
۱۲  پښتانه شعرا    ص ۲۵-۲۶


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ